**د سپارلو پر مهال چمتو شوي نسخې سره يې پرتله کړئ**

**د ميرمن نګينه ياري بيان**
**د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا لنډيز**
**د ۲۰۲۵م کال، ډسمبر ۱۰**

ښاغلی رئيس او جلالتمآبانو:

ډېره زياته مننه چې نن ورځ مو د خبرو کول فرصت راکړ. زه نګينه ياري يم، د هيلي دريڅه شبکه بنسټ ايښودونکې او عمومي رييسه يم، چې د ښځو په مشرۍ د سازمانونو يوه شبکه ده چې د افغانستان په ۲۶ ولايتونو کې فعاليت کوي.

زه د افغانستان له يو له لرې پرتو ولايتونو څخه يم، چيرې چې زده کړې ته لاسرسی يو وخت يوازې يوه ناشونې هيله وه. خو، په تېرو دوو لسيزو کې، ما ښوونځی ولوست، په پوهنتون کې مې خپلې لوړې زده کړې ترسره کړې، او د ملي نوښتونو مشري مې د يوې موخې لپاره کړې ده: د هيوا د روښانه راتلونکي لپاره ونډه واخلم.

سره له دې چې افغان ښځې هم همدا ډول ورتياوې لري، په ميليونونو افغان ښځې او نجونې اوس مهال د طالبانو د واکمنۍ پرمهال له خپلو بشري حقونو څخه بې برخې دي.

نن د بشري حقونو نړيواله ورځ ده. خو په افغانستان کې د بشري حقونو وضعيت مخ په خرابېدو دی، د ملګرو ملتونو راپورونه ډېرو نو سرغړونو ترڅنګ، په عام محضر کې اعدامونه[1]، جسمي/فزيکي سزاګانې[2]، شکنجه کول[3] ، د قومي او مذهبي لږکيو[4] په نښه کول او د مدني فعالينو محدودولو په اړه توضيحات ورکوي.[5] د افغان ښځو نږدې ټول حقونه، په شمول د زده کړې حق، د کار کولو حق، او په عامه او سياسي ژوند کې د ګډون حق، په تدريجي ډول له منځه تللي دي. د دې پر ځای چې د خپل ژوند معماران شي، دوی د مالي مرستو ترلاسه کونکو ته راټيټ شوي دي. او اوس، حتی د مالي مرستو ته د لاسرسي وړتيا هم له خطر سره مخ ده.

زما ننۍ څرګندونې به په يوې موضوع متمرکزې وي: د ښځينه مرستندويه کارکوونکو په اړه د طالبانو محدوديتونه. د هغو ۱۳۵ فرمانونو له ډلې چې طالبانو د ښځو او نجونو په وړاندې لګولي دي،[6] د مرستندويه کارکوونکو په ژوند باندې مخ په زياتېدونکي محدوديتونه د ښځو او نجونو په ژوند باندې ويجاړونکي اغيزې لري.

د ۲۰۲۱م کال په ډسمبر مياشتې، طالبانو د محرم (نارينه سرپرست)[7] پرته د روغتيايي مرکزونو او د بشري مرستو رسولو په ګډون،[8] ښځې له سفر کولو څخه منع کړې. د ۲۰۲۲م کال په ډسمبر مياشت کې، طالبانو ملي او نړيوالو غير دولتي سازمانونو (INGOs) ته امر وکړ چې د ټولو افغان ښځينه کارکونکو دندې تعليق کړي.[9] د ۲۰۲۳م کال په اپريل مياشت کې، دوی په ملګرو ملتونو کې د افغان ميرمنو کار کول منع کړل.[10] د ۲۰۲۴م کال په ډسمبر مياشت کې، طالبانو ښځې د طبي روزنې او زده کړې کولو څخه منع کړې.[11] په سپتمبر مياشت کې، طالبانو د ملګرو ملتونو په دفترونو کې ښځينه افغان کارمندانې له ننوتلو څخه منع کړې.[12] په نومبر مياشت کې، طالبانو ټولې ښځې، په شمول د ناروغانو او ټولو ښځينه کارمندانو، له پاکوونکو څخه تر جراحانو پورې، په هرات کې د روغتيايي مرکزونو ته د ننوتلو پر مهال د چادرۍ اغوستلو ته اړ کړې.[13]

د دې لنډيز څخه مخکې، هيلي دريڅه شبکه د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه د ۲۵۶ ميرمنو سره مرکې وکړې. هغه څه چې زه نن له تاسو سره شريکوم يوازې زما نظر نه دی، دا د دوی غږ دی. د دوی درد دی. د دوی حقيقت دی.

هغه ښځې چې موږ ورسره مرکې کړې دي، په ډېر روښان شکل سره وايي: په ټولو افغان ښځينه کارمندانو باندې دا سخت محدوديتونه په ټول افغانستان کې د بشري عملياتو راتلونکی له خطر سره مخ کوي.

جلالتمآبانو، اجازه راکړئ چې ددې په اړه په ساده الفاظو کې وضاحت درکړم. په هغه هيواد کې چې ۲۲.۹ ميليونه افغانان بشري مرستو ته اړتيا لري[14] ، چې ۵.۷ ميليونه يې ښځې دي[15] ، او د دې مرستو رسولو لپاره د اړتيا وړ يوازې ۳۷ سلنه فنډ شتون لري،[16] د ښځينه مرستندويه کارمندانو محدوديتونه يواځې يوه مانا لري: په مليونونو ښځې او نجونې چې په دوی متکي دي، د زيان له لوی خطر سره به مخ شي، او حتی د مرګ تر درشله به ورسيږي. دوی به د ژوند ژغورونکي طبي خدماتو ته لاسرسی له لاسه ورکړي[17] ، د خوارځواکۍ[18] له لوی خطر سره به مخ شي،[19] او د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي او جبري ودونو له زياتوالي سره به هم مخ شي.[20]

د طالبانو له خوا د محدوديتونو بدلول د قانون حاکميت کمزوری کوي او په حکومتولۍ کې د حقونو سرغړونې عادي کوي. دا پاليسی نه يو تنها دا چې ښځې محدودوي، بلکې دا پاليسی د دوی بشري حقونه تر پښو لاندې کوي، ژوند يې په خطر کې اچوي، او د افغانستان اوږدمهاله ثبات ګواښي.

په جوزجان کې، يوې ښځينه مرستندويه کارکوونکې موږ ته وويل چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر محتسبينو لخوا په عامه توګه سپکاوي او په ښځو باندې فزيکي بريدونو هغه ستړې کړې ده او د کار د دوام وړتيا يې ورته کمزورې کړې ده.

په پکتیا کې، د ښځینه طبي کارکوونکو د نشتوالي او د محرم د پالیسۍ له امله د ښځینه نرسانو د محدود شتون له امله، ښځې نشي کولی خپلې اندیښنې په خونديټوب ډول د نارینه کارمندانو، طبي کارکوونکو یا ډاکټرانو سره شریکې کړي. دا پدې مانا ده چې دوی مناسبه مرسته نشي ترلاسه کولی، حتی کله چې دا ممکن "شتون هم ولري".

په میدان وردګو کې، چیرې چې ښځینه مرستندویه کارکونکي نشته، طالبانو د ښځینه ګټه اخیستونکو لپاره د بایومیټریک راجسټریشن لرې کړې دی، چې ښځې یې د نوم لیکنې یا مرستې ترلاسه کولو مخه نیسي. پایله یې یو داسې سیسټم دی چې پکې مرستې د نارینه وو لخوا، نارینه وو ته او د نارینه وو لپاره رسول کیږي.

په هرات کې، نوي محدودیتونه چې ټولې ښځې اړ باسي چې روغتیایي مرکزونو[21] ته د ننوتلو لپاره چادري واغوندي، دمخه یې طبي پاملرنې ته د لاسرسي کچه خورا کمه کړې ده.[22]

سږ کال، له ایران او پاکستان[23] څخه په زوره افغانستان ته راستانه شوي ۲.۶ میلیونه خلکو څخه لږ تر لږه ۷۰ سلنه یې ښځې او ماشومان وو[24]. پخوا، له ۱۰۰ څخه زیاتې ښځینه مرستندویه کارکونکې د اسلام کلا پولې[25] ته د ننوتلو لپاره موجودې وې. خو اوس، هلته د افغان ښځینه مرستندویه کارکونکو د بندیز راهیسې، یوازې ۱۰ کارکونکې د کار کولو اجازه لري[26]، هغه هم د بشپړ حجاب[27] د رعایتولو په شرط سره.[28] وضعیت دومره خراب دی چې ملګرو ملتونو په یوه غیر معمولي اقدام کې په موقت ډول په اسلام کلا کې خپل مرستندویه عملیات وځنډول.[29]

هغو ښځو چې موږ ورسره مرکې وکړې، موږ ته وویل چې څنګه د طالبانو له خوا د ملګرو ملتونو د ښځینه کارمندانو له کارځایونو څخه ایستل سخت عملیاتي ننګونې رامینځته کړې دي. د ښځو اړتیاوې پټې دي. د ښځو لپاره د شکایتونو محرم میکانیزمونه لرې شوي دي. او ځکه چې ښځې نشي کولی په خونديټوب ډول نورو ښځینه کارمندانو ته د ناوړه ګټه اخیستنې راپور ورکړي، نو د ناوړه چلند او د مرستو انحراف احتمال لري چې بې تحقیقه پاتې شي.

مرستې باید ټولو اړمنو افغانانو ته ورسیږي. خو بشري مرستندویان اړ دي چې ناممکن انتخابونه وکړي: یا خو عملیات په بشپړه توګه ودروي، یا له ښځو پرته عملیات وکړي، چې دواړه یې داسې پایلې لري چې د زغملو نه دي.

جلالتمآبانو، اجازه راکړئ چې روښانه کړم: په افغانستان کې د بشري حقونو بحران د بشري بحران څخه جلا کیدونکی نه دی. هیڅ ډول مرستې نشي کولی د جنسیتي توپیر هغه سخت سیسټم حل کړي چې ښځې او نجونې یې د طالبانو په واکمنۍ کې هره ورځ ورسره مخ دي. یوازې د بشري حقونو، عدالت او حساب ورکولو درناوی کولی شي دا کار وکړي. مګر د طالبانو تبعیضي قوانینو او ظالمانه کړنو ته اجازه ورکول چې دا وټاکي چې څنګه بشري کار ترسره کیږي - په شمول د ملګرو ملتونو، نړیوالو نادولتي موسسو او نورو لخوا - نه یوازې بشري اصول کمزوري کوي، بلکې د ښځو د محرومیت د ژورولو له لارې زیان هم زیاتوي. د بشري مرستو اغیزمن او اصولي تحویل د ښځو پرته ممکن نه دی.

په ۲۰۲۳م کال کې، کله چې طالبانو په ملګرو ملتونو کې د افغان ښځو کار کول منع کړل، د امنیت شورا د دې بندیز د غندلو[30] لپاره یو پریکړه لیک تصویب کړ. لیکن، لکه څنګه چې د طالبانو د جنسیت ضد پالیسۍ زیاتې شوې، شورا تر ډیره حده چوپ پاتې شوې ده. موږ له تاسو څخه غواړو چې دا روښانه کړئ چې دا بندیزونه غیرقانوني، د نه منلو وړ دي او باید دوام ونه کړي.

له همدې امله، زه له تاسو څخه غوښتنه کوم چې لاندې کړنې ترسره کړئ:

- له طالبانو څخه غوښتنه وکړئ چې سمدلاسه د ښځو د حقونو په اړه ټول محدودیتونه لرې کړي، په شمول د بشردوستانه خدماتو وړاندې کولو کې د دوی د ګډون ورتیا. افغان ښځینه کارمندانو ته باید اجازه ورکړل شي چې په خونديټوب ډول د ملګرو ملتونو، نړیوالو نادولتي موسسو او سیمه ایزو سازمانونو لپاره کار وکړي. ټول بشري فعالین، په شمول د بسپنه ورکوونکو، باید په دوامداره توګه د بشري اصولو ملاتړ وکړي. دوی باید هغه پالیسۍ تعقیب نه کړي چې ښځې له پامه غورځوي. دوی باید له داسې ټیمونو سره کار ونه کړي چې ټول کارمندان یې نارینه وي. دوی باید د استخدام، معاشونو یا د ګټه اخیستونکو په انتخاب کې د طالبانو هیڅ ډول لاسوهنه ونه مني. ټولو افغان ښځینه کارمندانو ته باید معاش ورکړل شي.
- د افغانستان دننه او په جلاوطنۍ کې د زړورو افغان ښځو د بشري حقونو مدافعینو ملاتړ ته لومړیتوب ورکړئ. د هغو کسانو لپاره چې په خطر کې دي، د بیا میشتیدنې چټکې لارې چارې، د ښځو په مشرۍ د سازمانونو لپاره دوامداره او انعطاف منونکي تمویل، او د افغانستان د بشري حقونو ټولنې سره معنی لرونکې مشورې باید شتون ولري.
- کله چې طالبان د نړیوالو قوانینو، په شمول د ښځو د بشري حقونو، سرغړونه کوي، نو باید د خپلو کړنو له عواقبو سره مخ شي. د نړیوالې جنایي محکمې او د عدالت نړیوالې محکمې له لارې د طالبانو مشران مسؤل وګڼئ، او ډاډ ترلاسه کړئ چې نوی جوړ شوی خپلواک تحقیقاتي میکانیزم په بشپړ ډول تمویل کیږي. د جنسیت توکمپالنه یو نړیوال جرم وګرځوئ، لکه څنګه چې افغان میرمنو غوښتنه کړې ده. د افغان میرمنو او نجونو په وړاندې د جدي سرغړونو مسؤل طالب مشرانو باندې هدفمند بندیزونه ولګوئ، او په هغو کسانو بندیزونه مه لرې کوئ یا د سفر معافیت مه ورکوئ چې پدې ناوړه ګټه اخیستنو کې ښکیل دي. طالبانو ته په ملګرو ملتونو یا کوم بل فورم کې څوکۍ مه ورکوئ.
- د مارچ میاشتې ته سترګې په لار: د یوناما ماموریت په بشپړه توګه نوي کړئ او د هغې په اغیزمن پلي کولو ټینګار وکړئ، په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو د ساتنې ملاتړ کونکي احکام، او ډاډ ترلاسه کړئ چې یوناما د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه په منظم ډول راپور ورکولو ته دوام ورکوي.

- په پای کې، غوښتنه وکړئ چې افغان ښځې د دې وړتیا ولري چې زموږ د هیواد د راتلونکي په اړه په ټولو بحثونو کې په مانا لرونکي ډول برخه واخلي، په شمول د موسایک پروسې کې.

جلالتمآبانو: موږ خیرات نه غواړو. موږ خپل حقونه غواړو. افغانستان به تر هغه وخته پورې هیڅ راتلونکی ونلري تر څو چې یې ښځې آزادې نه وي. مننه.

[1] OHCHR, "UN expert condemns latest execution in Afghanistan," 22 October 2025, https://www.ohchr.org/en/press-releases/2025/10/un-expert-condemns-latest-execution-afghanistan; OHCHR, "Afghanistan must immediately stop public executions and corporal punishment: UN experts," 17 April 2025, https://www.ohchr.org/en/press-releases/2025/04/afghanistan-must-immediately-stop-public-executions-and-corporal-punishment.

[2] "Access to justice and protection for women and girls and the impact of multiple and intersecting forms of discrimination - Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan, Richard Bennett," ¶27, 56, 11 June 2025, A/HRC/59/25, https://www.ohchr.org/sites/default/files/2025-06/a-hrc-59-25-auv-1-en.pdf.

[3] "Situation of human rights in Afghanistan - Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan, Richard Bennett," ¶28, 68, 82-84, 20 February 2025, A/HRC/58/80, https://www.ohchr.org/sites/default/files/2025-02/a-hrc-58-80-aev-1-en.pdf.

[4] "Situation of human rights in Afghanistan - Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan, Richard Bennett," ¶44-53, 20 February 2025, A/HRC/58/80, https://www.ohchr.org/sites/default/files/2025-02/a-hrc-58-80-aev-1-en.pdf.

[5] "The situation of human rights in Afghanistan - Report of the Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights," ¶28-33, 5 September 2025, A/HRC/60/23, https://www.ohchr.org/sites/default/files/2025-09/a-hrc-60-23-auv-1-en.pdf.

[6] Femena, "Taliban-Imposed Edicts," accessed 8 December 2025, https://femena.net/2025/06/11/taliban-imposed-edicts-and-authors/.

[7] Al Jazeera, "No long-distance travel for women without male relative: Taliban," 26 December 2021, https://www.aljazeera.com/news/2021/12/26/afghanistan-long-distance-travel-women-without-male-escort-taliban.

[8] Zahra Nader and Nargis Amini, "The Taliban Are Harming Afghan Women's Health," 2 March 2022, https://foreignpolicy.com/2022/03/02/the-taliban-are-harming-afghan-womens-health/.

[9] Al Jazeera, "Taliban orders NGOs to send women workers home," 24 December 2022, https://www.aljazeera.com/news/2022/12/24/taliban-bans-women-from-working-for-domestic-foreign-ngos.

[10] UN News, "Taliban order bars Afghan women from working with UN," 4 April 2023, https://news.un.org/en/story/2023/04/1135357.

[11] Human Rights Watch, "Afghanistan's Taliban Ban Medical Training for Women," 3 December 2024, https://www.hrw.org/news/2024/12/03/afghanistans-taliban-ban-medical-training-women.

[12] UNAMA, "UN in Afghanistan Calls for Lifting of Restrictions on Female Staff Accessing UN Premises," 11 September 2025, https://unama.unmissions.org/un-afghanistan-calls-lifting-restrictions-female-staff-accessing-un-premises.

[13] Human Rights Watch, "Taliban's Mandatory Burqa in Herat Assaults Women's Autonomy," 19 November 2025, https://www.hrw.org/news/2025/11/19/talibans-mandatory-burqa-in-herat-assaults-womens-autonomy.

[14] OCHA, "Afghanistan Humanitarian Needs and Response Plan 2025," December 2024, https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-needs-and-response-plan-2025-december-2024; OCHA estimates that 22 million people in Afghanistan will require assistance in 2026. "Global Humanitarian Overview 2026 - Afghanistan," 8 December 2025, https://humanitarianaction.info/document/global-humanitarian-overview-2026/article/afghanistan-4.

[15] OCHA, "Afghanistan Humanitarian Needs and Response Plan 2025," p.16, December 2024, https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-needs-and-response-plan-2025-december-2024.

[16] OCHA Financial Tracking Service, "Afghanistan Humanitarian Needs and Response Plan 2025," accessed 9 December 2025, https://fts.unocha.org/plans/1263/summary.

[17] Committee on the Elimination of All Forms of Discrimination against Women, "Concluding observations on the fourth periodic report of Afghanistan," ¶35-36, 10 July 2025, CEDAW/C/AFG/CO/4, https://docs.un.org/en/CEDAW/C/AFG/CO/4; Diaa Hadid and Khwaga Ghani, "A midwife says of the aid cuts in Afghanistan: 'No one prioritizes women's lives'," NPR, 31 March 2025, https://www.npr.org/sections/goats-and-soda/2025/03/31/g-s1-56594/childbirth-usaid-afghanistan;

[18] OCHA, "Afghanistan Humanitarian Needs and Response Plan 2025 - Nutrition," 14 January 2025, https://humanitarianaction.info/plan/1263/article/nutrition-0; Women-headed households are more susceptible than male-headed households to food insecurity given restrictions on women's work and movement; they are also more likely to report economic shocks. OCHA, "Afghanistan Humanitarian Needs and Response Plan 2025 - Food Security and Agriculture (FSAC)," 14 January 2025, https://humanitarianaction.info/plan/1263/article/food-security-and-agriculture-fsac-0.

[19] UN Women, "Afghanistan Gender Index 2024," June 2025, pp. 56-58, https://www.unwomen.org/sites/default/files/2025-06/gender-index-2024-afghanistan-en.pdf.

[20] Fatima Jafari et. al., "The Impact of Afghanistan's Policies on Early Child Marriage and Girl's Education: Current Trends and Future Consequences," Risk Management and Health Policy, 30 October 2025, https://pmc.ncbi.nlm.nih.gov/articles/PMC12583558/; See also UN Women, "Afghanistan Gender Index 2024," June 2025, pp. 25-26 [noting a specific increase in percentage of women-

headed households arranging child marriage for daughters given escalating economic and protection needs], https://www.unwomen.org/sites/default/files/2025-06/gender-index-2024-afghanistan-en.pdf.

[21] Firuza Azizi, "Taliban Bars Women Without A Burqa From Entering Hospitals in Afghanistan," Radio Free Europe/Radio Liberty, 11 November 2025, https://www.rferl.org/a/afghanistan-taliban-herat-women-burqa/33587547.html.

[22] MSF, "New restrictions limit access to care for women in Herat," 10 November 2025, https://www.msf.org/new-restrictions-limit-access-care-women-herat.

[23] UNHCR, "Afghanistan Situation," accessed 4 December 2025, https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan.

[24] UNCHR, "Iran-Afghanistan Returns Emergency Response #26," 3 December 2025, https://data.unhcr.org/en/documents/details/119948; UNHCR, "Afghanistan Situation: Afghan Returns from Iran and Pakistan Emergency Update #14," 29 October 2025, https://data.unhcr.org/en/documents/details/119371. OCHA estimates that women and children comprise 60% of all returns. Security Council briefing on the humanitarian situation in Afghanistan by Tom Fletcher, Under-Secretary-General for Humanitarian Affairs and Emergency Relief Coordinator, 10 December 2025, https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/security-council-briefing-humanitarian-situation-afghanistan-tom-fletcher-under-secretary-general-humanitarian-affairs-and-emergency-relief-coordinator.

[25] Hannah Lucinda Smith, "Taliban edict on female staff pushes Afghan women deeper into the shadows," The Observer, 15 November 2025, https://observer.co.uk/news/international/article/taliban-edict-on-female-aid-staff-pushes-afghan-women-deeper-into-the-shadows.

[26] Fidel Rahmati, "UN Halts Operations at Islam Qala Border After Afghan Women Staff Barred from Work," Khaama Press News Agency, 5 November 2025, https://www.khaama.com/un-halts-operations-at-islam-qala-border-after-afghan-women-staff-barred-from-work/

[27] MSF, "New restrictions limit access to care for women in Herat," 10 November 2025, https://www.msf.org/new-restrictions-limit-access-care-women-herat.

[28] MSF, "New restrictions limit access to care for women in Herat," 10 November 2025, https://www.msf.org/new-restrictions-limit-access-care-women-herat.

[29] UNHCR, "Afghanistan Situation: Afghan Returns from Iran and Pakistan Emergency Update #16," 26 November 2025, https://data.unhcr.org/en/documents/details/119818; Fidel Rahmati, "UN Halts Operations at Islam Qala Border After Afghan Women Staff Barred from Work," Khaama Press News Agency, 5 November 2025, https://www.khaama.com/un-halts-operations-at-islam-qala-border-after-afghan-women-staff-barred-from-work/.

[30] Security Council Resolution 2681 (2023), undocs.org/s/res/2681(2023).